# جریده میــــزان

قـوهٔ قضائیه

د سترې محکمې کاري څرګندويه خپرونه

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

پنج شنبه ۲ وږی ۱۴۰۲ هـ ش | ۸ صفر المظفر ۱۴۴۵ هـ ق | ۲۴ اګست ۲۰۲۳ م | مسلسله شمېره (۴۱)


## د سترې محکمې د عالي شورا د نوي (۱۴۴۵) هـ ق کال درېيمه غونډه ترسره شوه

چهارشنبې په ورځ (۳۰/محرم الحرام/۱۴۴۵ هـ ق) نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د ۱۴۴۵ هـ ق کال درېيمه غونډه ترسره شوه.

د سترې محکمې د عالي شورا په دې ناسته کې چې د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرۍ جوړه شوې وه د عالي شورا غړو محترم شيخ محمدقاسم (راسخ)صاحب، محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) صاحب، محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب، محترم شيخ محمد شريف (حقاني) صاحب او محترم مفتي عبدالرشيد (سعيد) صاحب ګډون درلود.

د عالي شورا په دې ناسته کې د غونډې په اجنډا کې د شاملو اتو (۸) مهمو موضوعاتو په اړه تر تفصيلي خبرو وروسته د يادو موضوعاتو اړوند فيصلې صادرې شوې.

د سترې محکمې د عالي شورا ياده ناسته د دعاء په ويلو سره پای ته ورسېده.

## قاضی القضات و رئیس ستره محکمه به ولایت کندز سفر کرد

عصر روز جمعه مؤرخ ۱۴٤٥/۱/۲٥ هـ ق محترم شیخ عبدالحکیم «حقانی» حفظه الله قاضی القضات و رئیس ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان در حالیکه ایشان را محترم مفتی حزب الله «ابراهیمی »صاحب رئیس عمومی تدقیق و مطالعات مقام عالی ستره محکمه همراهی می‌نمود به ولایت کندز سفر کرد.

محترم قاضی القضات و رئیس ستره محکمه طی این سفر با محترم مولوی نورمحمد «نوری» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ کندز و عدهٔ از رؤسای دواوین استینافی، مفتی صاحبان و کارمندان اداری و خدماتی ملاقات نمود.

محترم شیخ صاحب حفظه الله هدف از تشریف آوری شان به ولایت کندز، نظارت و ارزیابی از اجراآت قضائی و اداری محاکم آن ولایت خواند و پیرامون تطبیق قوانین شرعی، سلوک حسنه با مراجعین و اصحاب دعوی و ارتباط نیک با ارگان های عدلی و قضائی و ادارات ذیربط امارتی، تسریع امورات قضائی و اداری در مواعید اصولی و ترتیب بموقع وثایق مختلف النوع صحبت های مفصل و همه جانبه را ایراد فرموده و رهنمائی های لازم را در راستای تحقق عدالت تأکید نمود.

بعداً رئیس محکمهٔ مرافعهٔ کندز با قاضی القضات صاحب معلومات راجع به دست آورد های محاکم آن ولایت شریک ساخت و از تطبیق صد در صدی قوانین شرعی و اصولی نیز اطمینان داد.

محترم قاضی القضات صاحب ضمن رهنمایی‌های سودمندشان نظریات و پیشنهادات ریاست عمومی محکمهٔ مرافعهٔ کندز را استماع نموده و در راه حل نیازمندی های محاکم نسبت تسریع امور قضائی وعده همکاری نمود.

## محترم قاضی القضات و رئیس ستره محکمه به ولایت سمنگان سفر نمود

محترم شیخ عبدالحکیم «حقانی» قاضی القضات و رئیس ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان یوم شنبه مؤرخ ۱٤٤٥/۱/۲٦هـ ق در ادامهٔ سفرهای اش به ولایات کشور وارد سمنگان شد و از محاکم آن ولایت دیدار بعمل آورد.

در این دیدار رؤسای دواوین محکمهٔ مرافعه، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، آمریت ثبت اسناد و وثایق و مخزن و آمریت حقوق نیز حضور داشتند.

ابتداء محترم مولوی محی الدین «عمری» رئیس مرافعهٔ ولایت سمنگان جلسه را به تعارف آغاز نموده رؤسای محاکم را به محترم قاضی القضات شیخ صاحب معرفی نمودند.

ثانیاً محترم شیخ عبدالحکیم «حقانی» قاضی القضات و رئیس ستره محکمه به قضات گرامی نصیحت و توصیه های سودمندی را ایراد نموده گفت که از تأخیر در صدور فیصله ها و روند رسیدگی به دوسیه ها جلوگیری نمائید، در جریان رسیدگی به دوسیه ها حتماً تحقیق و بررسی همه جانبه نمائید تا فیصله به شکل اصولی و شرعی صادر شود و فیصلهٔ اصولی از طرف محکمهٔ مرافعه و محکمهٔ تمیز نیز تائید گردیده و از تاخیر دوسیه ها جلوگیری بعمل می آید.

بعداً محترم شیخ صاحب از ملکیت محاکم خصوصاً از حویلی رهایشی قضات جویای معلومات گردید؛ در زمینه از سوی ریاست محکمهٔ مرافعه معلومات کافی خدمت جناب ایشان ارائیه گردید.

در اخیر رؤسا و قضات گرامی مشکلات و نظریات خویش را تقدیم نمودند، در مورد از سوی محترم قاضی القضات صاحب وعدهٔ همکاری داده شد.

در اخیر مجلس با دعائیه خیر و فلاح خاتمه یافت.

## قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب بدخشان ولايت ته سفر وکړ

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب ولايتونو ته د خپلو سفرونو په دوام د پنجشنبې په ورځ (۱۴۴۵/۱/۲۴ هـ ق) نېټه له غرمې وروسته بدخشان ولايت ته سفر وکړ.

د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات د ياد سفر پر مهال د بدخشان ولايت د مرافعه محکمې د رئيس او قضائي غړو په ګډون د دغه ولايت د يو شمېر نورو محاکمو له مسؤولينو، د بدخشان له محترم والي، د علماوو شورا له غړو او نورو ولايتي ادارو له مسؤولينو سره وکتل.

شيخ صاحب د دې ليدني پر مهال د قضاء او افتاء مسلک اړوند تفصيلي بيان وکړ وويل، د محاکمو ټول مسؤولين او منسوبين که هغه په مرکز کې وي يا په ولسواليو کې، په خپلو اړوند کارونو کې دې پوره کوښښ کوي او په پوره غور او دقت دې فيصلې صادروي.

محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب زياته کړه، قضاء ډېره لويه وظيفه ده بايد په ښه ډول د ترسره کولو لپاره يې ډېر کوښښ وکړئ، کله چې قضائي مسؤولين فيصله صادره کړي بايد محکوم له او محکوم عليه داواړو ته يې ورکړي، ځکه چې که محکوم عليه يې له نورو علماوو سره شريکه کړي بيا به د تهمت لګولو فرصت ونه لري.

محترم شيخ صاحب د محاکمو مسؤولينو ته په خطاب کې وويل، د مدعي او مدعي عليه ترمنځ سوله کوئ، خو خپله مصلحين مه جوړيږئ.

نوموړي هدايت وکړ چې د دارالوکاله وو خلک راوغواړئ د صورت دعوی صحيح طريقه ورته وښاياست، ځکه خلک له لرې سيمو راځي او د ناسمې صورت دعوی د ترتيب له وجې ډېر په تکليف کېږي.

محترم قاضي القضات شيخ صاحب د بدخشان د محاکمو مسؤولينو ته په ټينګار سره وويل چې له مراجعينو او هيوادوالو سره د اسلامي شريعت او اصولو پر بنياد ښه چلند کوئ.

د يادونې وړ ده چې د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب بدخشان کې د محاکمو پر مسؤولينو سربېره د بدخشان له محترم والي صاحب، د علماوو شورا له رئيس او غړو او يو شمېر نورو ولايتي اداري مسؤولينو سره د ليدنې پر مهال په اړوندو موضوعاتو خبرې وکړې.

**د نجران تازه ګمارل شوي قاضي علاء بن حضرمي رضي الله عنه ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم ليک لومړۍ برخه**

دا ليک د عبدالله د زوی محمد ( صلی الله عليه وسلم) چې أمي، قريشي او هاشمي لقبونه کوي، د الله تعالی داسې پيغمبر چې د ټولو خلکو لپاره را لېږل شوی دی، و علاء بن حضرمي او هغو مسلمانانو ته دی، چې له هغه سره سې تړون کړی وي.

اې مسلمانانو! څومره چې مو وس وي د الله تعالی څخه وېره او پرهېزګاري کوئ، په تحقيق سره ما تاسو ته علاء بن حضرمي درولېږی، هغه مې په دې امر کړی چې د هغه څښتن څخه دې ووېرېږي چې يو دی او شريک نه لري، په نرمۍ سره تاسو ته برياوي راوړي، په ښکې طريقې سره دې غوره اخلاق ستاسو منځ کې خپور کړي او ستاسو او د هر هغه چا ترمنځ چې ورسره مخ کيږي، په هغه انصاف پرېکړې وکړي کوم چې الله تعالی په خپل کتاب کې بيان کړي دی.

همدارنګه تاسو ته امر کوم کله چې هغه پورته شيان ترسره کړه، نو تاسو به د ده اطاعت او پيروي کوئ.

اخذليک: تتمة النظام، ۳۴ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## د سترې محکمې محترم رئيس او قاضي القضات د بلخ ولايت د محاکمو له مسؤولينو او منسوبينو سره وکتل

د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) په داسې حال کې چې د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رئيس محترم حزب الله «ابراهيمي» يې ملتيا کوله، شنبه د (١٤٤٥ هـ ق کال د محرم الحرام مياشتې په ٢٦مه) بلخ ولايت ته سفر وکړ او د دغه ولايت د محاکمو له مسؤولينو او منسوبينو سره يې وکتل.

په دغه غونډه کې چې د بلخ ولايت په مرافعه محکمه کې جوړه شوې وه د ياد ولايت د مرافعه محکمې عمومي رئيس محترم مولوي محمدګلاب (فاروقي)، د يادې محکمې اړوند رئيسانو، مفتي صاحبانو، قضائي محررينو، د ښاري ابتدائيه محکمې عمومي رئيس، د دې محکمې اړوند رئيسانو، مفتي صاحبانو او محررينو، د بلخ د نظامي ابتدائيه محکمې عمومي رئيس، د يادې محکمې مفتي صاحبانو او قضائي محررينو، د تحريراتو رئيس، د مرافعه محکمې او ښاري ابتدائيه محکمې منسوبينو، د اسنادو او وثايقو د ثبت آمرينو، مفتي، قضائي محرر او د حقوقو آمر ګډون درلود.

د غونډې په پيل کې د ښاري ابتدائيه محکمې د جزا ديوان مفتي محترم مولوي حميدالله «قانت» د قرآن عظيم الشان څو مبارک آياتونه تلاوت کړل.

ورپسې د بلخ ولايت د مرافعه محکمې رئيس محترم مولوي محمدګلاب «فاروقي» د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم «حقاني» او ورسره د تدقيق او مطالعاتو له عمومي رئيس محترم مفتي حزب الله «ابراهيمي» څخه مننه وکړه چې ياد ولايت ته يې سفر وکړ او د افغانستان د اسلامي امارت د ستر محکمې د رهبرۍ هيئت سفر يې د چارو په پرمختګ کې ګټور وباله وويل، دا چې محترم قاضي القضات صاحب د خپل مصروفيت سره سره د بلخ ولايت د محاکمو مسؤولينو او منسوبينو ته د هداياتو، لارښوونو او له قاضيانو سره د ليدنې لپاره دغه ولايت ته راغلی دی، دا زموږ لپاره د وياړ ځای دی.

نوموړي د بلخ ولايت مرافعه محکمې منسوبينو او د دغه ولايت خلکو ته د پاملرنې او مهربانۍ له امله له محترم قاضي القضات صاحب څخه مننه وکړه او همدارنګه يې د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو له عمومي رئيس محترم مفتي حزب الله (ابراهيمي) څخه چې تل يې ددغه رياست ستونزې په لنډ وخت کې حل کړې او لازمې لارښوونه يې کړې، مننه وکړه.

ورپسې د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات د غونډې ګډونوالو ته په خطاب کې وويل، زه پخوا د علماوو سره د مشورې په موخه بلخ ولايت ته راغلی وم، چې د وخت د کمښت له امله مې د بلخ ، فارياب او جوزجان ولايتونو د محاکمو له رئيسانو سره وکتل، وروسته مې بدخشان، کندز، بغلان او سمنګان ولايتونو ته د محاکمو د قضائي چارو د ارزونې او د خلکو د ستونزو د حل په موخه سفر درلود له دې امله مې ونشو کولای د بلخ محاکمو له قاضي صاحبانو او نورو قضائي غړو سره وګورم، نن زه راغلی يم چې له تاسو سره له نږدې ووينم او په ځينو موضوعاتو درسره خبرې وکړم.

شيخ صاحب زياته کړه، الحمدلله د افغانستان اسلامي امارت د مجاهدينو د استقامت په نتيجه کې اوسنی اسلامي نظام حاکميت ته رسېدلی او په ټول هيواد کې بشپړ امنيت تامين دی، د پخوانۍ ادارې په محاکمو کې شرعي احکام نه پلي کېدل، د حدودو او تعزيراتو د تطبيق پر ځای به يې د اسلامي شريعت خلاف مجرمين په ٢٠ يا ٣٠ کاله زندان محکومول او د شريعت خلاف اجراآت به يې ترسره کول؛ خو اوس الحمدلله په افغانستان کې اسلامي نظام ټينګ شوی، زموږ د محاکمو قاضيان مکلف دي چې د خلکو ترمنځ عدالت تامين کړي او له ظالم څخه د مظلوم حق واخلي.

د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات زياته کړه، محکمې د شرعي احکامو د تطبيق او د اسلامي عدالت رامنځته کولو برخه کې خورا مهمه مرجع ده، اوس د افغانستان مظلوم او متدين خلک د مفسدينو، زورواکو، کفارو او ظالمانو له ظلم څخه خلاص شوي دي، له مظلومانو سره بايد مرسته وشي، الله (جل جلاله) په داسې نظام کې چې د الله (جل جلاله) احکام او د محمدي شريعت اصول پليکوي له ملت سره مرسته کوي، بشپړ امنيت تامينيږي او د الله تعالی رضا حاصلېږي.

محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب وويل چې د محاکمو قاضيان بايد له خلکو سره د اسلامي اخلاقو مطابق چلند وکړي، که څه هم اصحاب دعوی تند چلند وکړي، خو د محاکمو مسؤولين يې دې په نرمه لهجه پوه کړي چې دوی د قرآن، نبوي احاديثو او د اسلامي فقهې د کتابونو د احکامو مطابق عمل کوي او د محکمې منسوبين مکلف دي چې شرعي احکام پلي کړي.

هغه زياته کړه، محترم قاضيان بايد خپل رسمي وخت په محفلونو، فاتحو او داسې نورو شخصي کارونو باندې ونه لګوي او د مدعيانو د دوسيو د پرمخ بېولو او هغو ته د رسېدنې لپاره بايد پوره هڅه وکړئ، که چيرې د مدعيانو دوسيې د قضيو د ډېروالي له امله وځنډېږي، بيا يې په اړه فيصله او اجراآت ناقص وي، د فيصلې د نواقصو او يا د قضائي قرار په صورت کې د نقض سره مخ کيږي، په دې صورت کې خلک د خپلو قضيو برخليک ته ډېر انتظار باسي او دوی ته سرخوږی جوړوي؛ نو د محاکمو قاضيان بايد متوجه وي، په دقت پرېکړې صادرې کړي او په پرېکړو کې خپلې نيمګړتياوې حل کړي.

محترم شيخ صاحب وويل چې تاسو محترم قاضيان د قضاء ستر مسؤوليت په غاړه لرئ او تاسو د خدای (جل جلاله)، د افغانستان د اسلامي امارت د رهبرۍ او ولس پر وړاندې مسؤول ياست، الله (جل جلاله) دې موږ او تاسو ته توفيق راکړي چې خپل ديني او ايماني مسؤوليت د الله (جل جلاله) د رضا، د خلق الله د خدمت او هوساينې لپاره ترسره کړو.

د سترې محکمې محترم رئيس او قاضي القضات زياته کړه چې له تاسو سره په ليدو خوښ شوم او له لوی خدای (جل جلاله) څخه غواړم چې په ښه ډول د چارو د ترسره کېدو، محاکمو او خلکو ترمنځ د واټن د له منځه وړلو په برخه کې له موږ سره مرسته وکړئ.

محترم شيخ صاحب د خپلې وينا په پای کې وويل، که تاسو کوم وړانديز يا ستونزه لرئ، د بلخ مرافعه محکمې ته يې په مکتوبي شکل ولېږئ چې د حل په برخه کې يې لازم هدايت وکړي.

ياده غونډه په دعا سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې اړوند قضائي زده کړو رياست کې قضائي سيمينار جوړ شو

د يکشنبې په ورځ (۱۴۴۵/۱/۲۷ هـ ق) نېټه د سترې محکمې اړوند قضائي زده کړو رياست کې د جديد التقرر قضاتو او مفتي صاحبانو او محررينو د ظرفيت لوړونې په موخه قضائي سيمينار جوړ شو.

په دغه سيمينار کې چې د سترې محکمې د محترم مقام په هدايت د قضاتو، مفتيانو او محررينو د قضائي ظرفيت لوړونې په موخه جوړ شوی و، د کابل د ښاري محکمې او ياد ولايت اړوند نورو محاکمو جديدالتقرر ۱۳۰ قضائي غړو ګډون درلود.

د دغه سيمينار ګډونوالو ته د مؤظفو استادانو او شيوخ کرامو لخوا د قضاء مسلک کې عملي او نظري روزنه ورکول کيږي.

د قضائي تعليماتو رياست عمومي رئيس محترم الحاج عبدالرحمن غزنوي صاحب وويل، په دغه سيمينار کې په مختلفو قضائي برخو کې عملي او نظري درسونه ورکول کيږي، د سهار له اوو بجو نظري درسونه پيلېږي او له شپږو مسلسلو درسي ساعتونو وروسته غرمه ۱۲ بجې پای ته رسيږي، د ماپښين د لمانځه له اداکولو وروسته عملي کار پيل کيږي چې تر ماښامه دوام لري.

دغه راز د سيمينار ګډونوالو ته به ماخوستن د خپلمنځي مذاکرې لپاره وخت ورکول کيږي چې د شپې تر ۱۱ بجو دوام کوي.

د سيمينار يو تن ګډونوال مفتي عبدالرزاق صاحب د ياد سيمينار په اړه وويل، د سيمينار يوه لويه فايده دا وي چې د محاکمو جديد التقرر قضائي غړي د قضاء مسلک اړوند عملي کارونه زده کوي چې بيا د دندې پر مهال ورته ډېرې اسانتياوې رامنځته کوي.

دغه راز د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو رياست مدقق مفتي سيدجمال آغا صاحب د ياد قضائي سيمينار له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او وويل: د سترې محکمې او د کابل د ښاري محکمې له څلورو زونونو څخه جديد التقرر قضائي منسوبين دلته راجمع شوي دي، موږ د سترې محکمې له محترم مشرتابه څخه ډېر منندوی يو چې موږ ته يې داسې يو فرصت برابر کړی دی، ترڅو د هغو ممکنه تېروتنو چې له موږ څخه به د عملي کار پر مهال پېښېږي مخنيوی وشي، دلته چې کوم قضائي منسوبين راغلي دي ټول ښه تاثرات لري او موږ له استادانو ډېر څه زده کړي دي او لا يې زده کوو.

د يادونې وړ ده چې دغه سيمينار دوې برخې ولري، په لومړۍ برخه کې به د ښاري محکمې قضائي غړو ته د ۱۰ ورځو په جريان کې عملي او نظري درسونه ورکړل شي، په دويمه برخه کې به د جديدالتقرر قضائي غړو لپاره ۴۵ ورځې درسونه دوام ولري.

## طی یک ماه در محاکم بادغیس علاوه بر حل و فصل (۸۸) دوسیه؛ به تعداد (۱۷٦ ) قطعه وثایق نیز اجراء گردیده است

راپور دوسیه‌جات و وثایق ریاست محکمهٔ مرافعه ولایت بادغیس شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق محکمه ابتدائیه شهری از تاریخ ۱۴۴۴/۱۲/۴ هـ ق الی ۱۴۴۵/۱/۵هـ ق بشرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش حقوقی و تجارتی:**

در جریان چهار هفته به تعداد (۵۴) دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالی‌که از قبل نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۱۵) دوسیه فیصله گردیده، (۳) دوسیه مکتوبی مسترد شده، در مورد (۳۰) دوسیه به قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان چهار هفته به تعداد (٥٦) دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالی‌که از قبل (۵۷) دوسیه نیز تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۱۱) دوسیه فیصله گردیده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد شده، در مورد (۱۹) دوسیه به قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و (۷۵) دوسیه تحت کارمی‌باشد .

همچنان به تعداد (۱۷۶) قطعه وثایق مختلف النوع نیزاجراء گردیده

## طی دو هفته در محاکم ابتدائیهٔ زون های چهارگانه شهری کابل به تعداد(۶۴۴) دوسیه حل و فصل گردیده است

گزارش توحیدی اجراآت دو هفته یی بخش‌های جزائی و حقوقی محاکم ابتدائیه زون های چهارگانه شهری و محکمه ابتدائیه جلوگیری از مواد مخدر و مسکرات کابل از تاریخ ۱۴۴۵/۱/۱ الی ۱۴۴۵/۱/۱۵ هـ ق به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۵۳) دوسیه به دواوین محاکم ابتدائیهٔچهار زون شهر کابل مواصلت ورزیده است؛ در حالی که از قبل نیز چندین دوسیه موجود بوده.

از آن جمله به تعداد (۱۲۰) قضیه فیصله شده، (۲۷۳) دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده، در مورد (۱۰۵) دوسیه طی قرار قضائی تصمیم اتخاذ شده و متباقی دوسیه ها تحت دوران قرار دارد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۸۴) دوسیه به دواوین محاکم ابتدائیه چهارزون شهر کابل مواصلت ورزیده است؛ در حالی که از قبل نیز چندین دوسیه موجود بوده.

از آن جمله به تعداد (۱۲) قضیه فیصله شده، (۵۷) دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده، در مورد (۷۷) دوسیه طی قرار قضائی تصمیم اتخاذ شده و متباقی دوسیه ها تحت دوران قرار دارد.

## رئیس محکمه مرافعه ولایت بامیان از محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی شبر آن ولایت بازدید کرد

یـوم سه شنبه مـؤرخ ۱٤٤٥/۱/۱۵هـ ق محترم مولوی سید میرآغا «هاشمی» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعـهٔ ولایت بامیـان غـرض بررسـی امـورات قضائی و اداری و رفع مشکلات و چالش های موجود در محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی شبر؛ به آن ولسوالی سفر نمود.

رئیس محکمهٔ مرافعه در جریـان ایـن سـفر از تمام امـورات قضائی و اداری آن محکمه بررسی و بازدیـد همه جانبه بـه عمـل آورد و در قسمت اجراآت یومیهٔ شان رهنمائی های لازم را بـرای منسوبین آن محکمـه نمـود.

همچنـان بـرای منسوبین آن محکمه خاطر نشان نمودکه کوشش شـود طبق هدایت متحدالمال نمبر ۳٦ مـؤرخ ۱٤٤٤/٥/۹ هـ ق ریاست عمومی دارالانشـاء مقـام عالی ستره محکمـه در حل و فصل شرعی و قانونی قضایای حقوقی و جـزای واصله عمل نموده و قضایا را در میعاد معینه آن حل و فصل نمایند.

موصوف همچنان گفت که بـا مراجعیـن برخـورد نیـک داشته باشید و اجراآت خویش را با شـریعت غرای محمدی و قوانین نافذه کشور عیـار سازید، به مشکلات خلـق اللـه در موقع و زمان معینه طبـق شـریعـت رسیدگی نمائید، و از سرگردانی اصحاب دعوی جداً پرهیز کنید، در اجراآت خویش هدایـات، رهنموده ها و متحدالمآل هـای مقام عالی ستره محکمه را مدنظر داشته باشید.

محترم مولوی سید میرآغا «هاشمی» برای پرسونل قضائی و اداری آن محکمه تأکید نمود تادر قسمت حاضری یومیه خویش پابندی جدی داشته باشند.

متعاقبـاً رئیـس محکمـه مرافعـه مشکلات وچالـش هـای فراراه آن محکمه را استماع نموده و به مسؤولین آن محکمه وعـده سپردکـه در قسمت حل مشکلات و چالـش هـای آن محکمـه اقدام لازم را روی دسـت خواهنـد گرفت و در اخیـر پرسونل قضائی و اداری محکمهٔ متذکره از بازدید و توصیه و رهنمودهای رئیس محکمـه مرافعـه اظهار خرسندی و قدر دانـی نمودند.

## د غزني د مرافعه محکمې د سرپرست رئیس په مشرۍ اداري ناسته ترسره شوه

د دوشنبې په ورځ(۱۴۴۵/۱/۲۸ هـ ق ) نېټه د غزني ولایت د مرافعـه محکمې سرپرست رئیس مولوي محمـد مبین (الطاف) د مرافعه محکمې په ریاست کې د عدلیې ریاست له رئیس او اداري کارکونکو او د مرافعه محکمې د دیوانونو له رئیسانو سره اداري ناسته وکړه.

په دې ناسته کې چې د قرانکریم د مبارکو ایاتونو په تلاوت پیل شوه پر یو لړ مهمو او مشترکو موضوعاتو لکه د امارتي ځمکو ساتنه او پر هغوی بانـدې د دعـوا په صورت کې څېړنـه، د قضایـای امـارت لخـوا محاکمـو تـه پر وخت د معلوماتـو ورکـول او داسې نـورو مـواردو بحث وشـو.

وروسته د مرافعـه محکمې د سر پرسـت رئیـس لـه لـوري مشـترکو سـتونزو تـه حل لارې پیدا او مربوطـه مرجع تـه یې لازم هدایت وکـړل ترڅـو یـادو سـتونزو تـه د رسـېدو برخـه کې جـدي هڅـې وکـړي، د سـتونزو پـر وخـت یـو له بل سـره تفاهـم او همکـاري وکـړئ.

ورپسې د عدلیې رئیس مولوي محمـد یعقـوب (عاصم) د هـر راز همکاریـو ژمنـه وکـړه او ناسـته د دعـاء پـه ویلـو سـره پـای تـه ورسـېده.

## د پکتیا د مرافعه محکمې رئیس په دغه ولایت کې د غصب د مخنیوي او غصب شوو ځمکو د تشخیص او تثبیت کمېسیون له ګډ پلاوي سره وکتل

د چهارشـنبې پـه ورځ (۱/۹/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټـه د پکتیـا ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس مفتي امـان اللـه «منقـاد حقاني» د دغه ولایت د غصب د مخنیوی او غصب شـوو ځمکـو د تشخیص او تثبیت کمېسیون لـه ګډ پـلاوي سـره پـه خپـل کـاري دفتـر کـې وکتـل.

ناسـته د قرآنکریم د مبارکـو آیاتونـو پـه تـلاوت پیـل شـوه؛ ورپسې د مرافعـه محکمې عمومي رئیـس ګډونوالـو تـه ښـه راغلاسـت  ووایـه.

پـه یـاده ناسـته کې د مرافعـه محکمې عمومي رئیس مفتي امـان الله «منقـاد حقانـي» خبـرې وکـړې، د اسـلامي امارت د نظام پـر ټینګښـت، د اسـلامي امـارت د مشـرانو پـر اطاعـت، لـه بیـت المـال څخـه پردفـاع، د امـارت «بیـت المـال» او د ولسـونو پـر حقوقـو یـې رڼـا واچولـه وویـل، د هـر چـا حقـوق بایـد اصـولاً هغـوی تـه وسـپارل شـي، د هېچا پـه حق کې باید ظلـم ونشـي.

د ناسـتې پـه دوام د پکتیـا ولایـت عدلیې ریاسـت رئیـس مولـوي محمدرئیـس «محمـدي» خبـرې وکـړې او لـه محاکمـو څخـه یـې غوښـتنه وکـړه چـې د غصـب لـه کمېسـیون سـره اصولـي همـکاري وکـړي.

دغـه راز پـه یـاده ناسـته کـې د مرافعـه محکمـې ریاسـت د ثبت اسناد وثایق او مخزن آمریت آمـر مولـوي نعمـت اللـه «بختیـار» خبـرې وکـړې، د غصب کمېسیون غړو او د ناسـتې ګډونوالـو تـه یـې د ثبـت محفـوظ د غوښـتلو طرزالعمـل تشـریح کـړ.

ورپسـې د ناسـتې ګډونوالـو پـه نوبـت خپلې ښلا، ښلې نظریې وړانـدې کـړې او خپلـې سـتونزې یـې د محکمې له رئیس سـره شـریکې کـړې.

د مرافعه محکمې رئیس لـه یادو کسانو سره ژمنه وکړه چې ان شـاءالله د پکتیـا ولایـت مرافعـه محکمـې ریاسـت بـه تـل د سـترې محکمـې لـه اصولـو سـره سـم پـه اصولـي او قانونـي امـورو کـې لـه تاسـو سـره همـکار وي.

یاده ناسته د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## در ولایت جوزجان بالای دو تن از متهمین فعل زنا حکم جزای تعزیری تطبیق شد

یوم شنبه مؤرخ ۲٦ /۱ /۱٤٤٥ هـ ق به اساس حکم محاکم جوزجان و تائیدی مقام عالی ستره محکمه بالای دو (۲) تن از متهمین فعل زنا در استدیوم شهر شبرغان آن ولایت جزای تعزیری تطبیق شد.

جلسهٔ که تحت ریاست محترم مولوی عبدالغنی (سعید) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت جوزجان بـا اشتراک محترم والی صاحب ولایت جوزجان، معاون صاحب مقام ولایت جوزجان، منسوبین محترم قضائی محاکم، قوماندان صاحب محترم امنیه ولایت جوزجـان، رئیس صاحب محترم استخبارات، رئیس صاحب محترم امربالمعروف ونهی عن المنکر، رئیس صاحب محترم اطلاعـات و فرهنگ ولایت جوزجان، مدیر صاحب محترم محبس ولایت جوزجان، رؤسـای محترم ادارات حکومتی و سایر مردم ولایت جوزجان بخاطری تطبیق حکم تعزیری شرعی در استدیوم شهر شبرغان دایرگردیده بود، بـا تـلاوت چنـدی آیـات از کلام الله مجید آغاز گردیـد؛ سپس رئیس صاحب عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت جوزجان بـا حدیث از پیامبـر بـزرگ اسلام حضرت محمـد مصطفی (صلی الله علیه وسلم) بیان نموده است که: عن عبادة بن الصامت (رضی الله عنه) قال قال رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اقیموا حدودالله فی القریب و البعید و لا تاخذکم فی الله لومة لایم ۱۲ رواه بن ماجه} آغاز سخن نموده و پیرامون سه موضوع (تلاش وکوشـش هـای زیادی مجاهدین امارت اسـلامی برای جلوگیری از جرم و جرایم، حکم تطبیقات حدود و تعزیرات از صلاحیت قاضی میباشد، در حکم قاضی باید واسطه بازی نشود) صحبت مفصل نمود.

متعاقبا علمـای کرام در ایـن مجلس یکی پی دیگری در رابطه به پیرامون موضوع صحبت کردند.

در اخیـر نشسـت در محضـر عـام بـالای (۲) تـن از متهمیـن مذکورکه دوسیه شان از طرف مقام عالی ستره محکمه مورد تائید قـرار گرفته بود حکم جـزای تعزیری تطبیق گردید.

جلسه بادعائیه خیر وفلاح مردم خاتمه یافت .

## بالای ۱۹ تن از متهمین جرایم مختلف، در ولایت سرپل حکم جزای تعزیری تطبیق شد

روز چهارشـنبه مؤرخ ۱٤٤٥/۱/۳۰ هـ ق بر اساس حکم محاکم ولایت سرپل و تائیدی ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان به شـمول دو زن بالای (۱۹) تـن از متهمین جرایـم مختلف (لواطت، زنـا، ارتبـاط نامشروع، خانه درآمد، سـرقت مسلحانه، فرار از منزل، توهین به حدیث رسـول الله صلی الله علیه وسلم ) در استدیوم مرکزی ولایت سرپل جزای تعزیری داده شـد.

درگردهمائی که بخاطری تطبیق تعزیرات بالای متهمین مذکور راه انـدازی شـده بـود، مسـؤولین محاکـم مرافعـه، ابتدائیهٔ شـهری، محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی گوسفندی، مقام ولایـت، قوماندانـی امنیـه، اسـتخبارات، امـر بالمعـروف و سـمع شـکایات، هـلال احمـر، آمـر زنـدان، اطلاعـات و فرهنـگ و تعـداد کثیـر از باشـندگان آن ولایـت حضـور داشـتند.

ابتـداء رئیـس محکمـهٔ مرافعـه در ارتبـاط بـه حکـم جـزای تعزیری سـخنرانی کـرد، سـپس خلاصـهٔ قضایـای متهمیـن خوانـده شـد و بـالای هـر یـک آن طبق حکـم محاکـم جـزای تعزیـری تطبیـق گردیـد.

## بالای چهار تن از متهمین در ولایت فاریاب تعزیرات شرعی تطبیق شد

به تاریخ ۲۰ محرم ۱٤٤٥ هـ ق طبق فیصلهٔ محاکم ولایت فاریـاب و تائیدی مقام محترم عالـی ستره محکمـه، در محوطهٔ محکمهٔ مرافعه بالای چهار تـن از متهمین جرایم فعل زنـا و لواطت جـزای تعزیری تطبیـق شـد.

درگردهمایی که بخاطری تطبیق جزای تعزیری بالای چهار تـن از متهمین مذکور راه انـدازی شـده بود؛ محترم الحاج مفتی عبدالوهـاب (زاهـد) رئیس محکمهٔ مرافعهٔ فاریـاب، مسؤولان ادارات دیگر ملکی و نظامی، علماء کرام و جمع کثیری از مردم متدین آن ولایت حضور داشـتند.

در ابتـداء رئیـس دیـوان جـزاء محکمـهٔ مرافعهٔ ولایـت فاریاب طی سـخنرانی اش گفت که محاکـم ولایت فاریـاب مصمم برتطبیـق حـدود اللـه متعـال بـالای مجرمیـن هسـتند؛ امـا کدام مجرم که شـرایط حـدود بالای آن تکمیل نشـد تعزیراً مجـازات خواهنـد شـد و امـروز عمـلاً شـما شـاهد تطبیـق آن خواهیـد بـود.

بعـداً فیصلـه و حکم محکومیـن را قرأت و پس از اتمام بطور جداگانه بالای هـر کدام از متهمیـن جـزای تعزیـری (بالای هـر کدام از متهمین جرم ارتباط نامشروع ۲۹ دُره و بـالای هـر کدام از متهمیـن جـرم لواطت ۳۰ دُره) تطبیـق گردید.

## زابل ولایت کې څلورو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

پنجشنبه (۲/۱/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټه د زابل ولایـت د شاه جـوی ولسوالی د ابتدائیه محکمې د حکم پـه اساس پـه همدې ولسوالۍ کې څلورو کسـانو تـه د غـلا، لواطت او دیاثـت پـه جرمونـو تعزیري سزا ورکـړل شـوه.

یـادو متهمینـو تـه د تعزیـري سـزا د تطبیـق پـه موخـه جـوړه شـوې ناسـته کې د زابل د محاکمو او نورو ادارو پر مسؤولینو سـربېره علمـاء کرامـو، قومـي مشـرانو او ګڼ شـمېر عامـو هیوادوالـو ګـډون درلـود.

د غونـډې پـه پیـل کـې د مسـؤولینو تـر وینـاوو وروسـته د متهمینـو د قضایـاوو خلاصـه بیـان شـوه، وروسـته هـر یـو تـه د محکمـې د حکـم مطابـق ټاکلـې تعزیري سـزا (دُرې) تطبیـق شـوه او غونـډه د دعـا پـه ویلـو پـای تـه ورسـېده

سرپرست مسئوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا اله الا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## نیمروز ولایت کې پنځو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د یکشنبې په ورځ (۱۴۴۵/۱/۲۰ هـ ق) نېټه د نیمروز ولایت د محاکمو د حکم په اساس د دغه ولایت په خاشرود ولسوالۍ کې پنځو کسانو ته د غلا په تور تعزیري سزا ورکړل شوه.

یادو متهمینو ته چې دوسیې یې د خاشرود ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې لخوا څېړل شوې وې، د تعزیري سزا د تطبیق په موخه جوړه شوې ناسته کې د محاکمو پر مسؤولینو سربېره د نورو ادارو مسؤولینو، دیني عالمانو، مشرانو، قومي مخورو او عامو هیوادوالو ګډون درلود.

د تعزیري سزا په موخه جوړه شوې ناسته کې د یو شمېر مسؤولینو تر عالمانه ویناوو وروسته د متهمینو د قضیو خلاصه بیان شوه، وروسته هر متهم ته د محکمې د حکم مطابق تعزیرات تطبیق شول او ناسته د دعا په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس د یوناما له استازو سره وکتل

د پنجشنبې په ورځ (۱۴۴۵/۲/۱ هـ ق) نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس محترم مولوي عبدالرحیم (راشد) د یوناما د بشر حقونو له رئیسې مېرمن فیونا فریزر او د یاد سازمان د قانون د حاکمیت څانګې له مسؤول سمویل اوپوکو سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دې لیدنه کې د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس د یوناما له استازو سره په افغانستان کې د محبوسینو په اړه د یوناما د بشر حقونو څانګې پر جوړ کړي راپور تفصیلي بحث وکړ.

محترم (راشد) صاحب وویل، د اسلام مبارک دین د بندیانو لپاره داسې حقوق وضعه کړي چې په بل هېڅ قانون کې نه تر سترګو کېږي، د افغانستان د قضائیه قوې محترم مشرتابه د بندیانو د وضعیت معلومولو او هغوی ته د لازمو اسانتیاوو برابرولو په موخه د هیواد په کچه لوړرتبه پلاوي جوړ کړي دي چې له نږدې څخه د زندانیانو د وضعیت پوښتنه کوي.

محترم مولوي عبدالرحیم (راشد) زیاته کړه، د سترې محکمې د عالي مقام د هدایت په اساس د افغانستان په هر ولایت کې د مرافعه محاکمو رئیسان مؤظف شوي چې وخت پر وخت له زندانونو له نږدې لیدنه وکړي، د زندانیانو د ستونزو په اړه د دوی نظر واخلي او په ټاکلي وخت رسېدنه ورته وکړي.


نوموړي د قضاتو د روزنې په مورد د یوناما د یادو استازو څرګندونو ته په ځواب کې وویل، د سترې محکمې په تشکیل کې د قضاتو د مسلکي روزنې په موخه د قضائي زده کړو عمومي ریاست جوړ شوی دی چې د یاد ریاست له لوري د محاکمو قضائي غړو ته لنډمهاله او اوږدمهاله قضائي سیمینارونه جوړه وي او په یاده برخه کې د مسلکي استادانو لخوا ورته نظري او عملي روزنه ورکول کېږي.

د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو محترم رئیس د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه څرګندوني وکړې وویل، د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته زموږ د هیواد په هره برخه کې د پام وړ پرمختګونه شوي دي، د بېلګې په ډول اداري فساد له منځه تللی، عدالت او امنیت په بشپړ ډول تامین دی، د نشه يي توکو کرکېله او قاچاق بیخي صفر ته رسېدلي دی.


نوموړي د یوناما له سازمان څخه غوښتنه وکړه چې نړیوالو ته د افغانستان حقیقي تصویر وړاندې کړي او د خپلو راپورونو جوړولو پر مهال دې تعادل په پام کې ولري.

د یوناما د بشر حقونو رئیسې مېرمن فیونا فریزر او د یاد سازمان د قانون د حاکمیت څانګې مسؤول سمویل اوپوکو د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو له رئیس سره په لیدنه خوښي څرګنده کړه او ژمنه یې وکړه چې دوی به هڅه وکړي نړیوالو ته د افغانستان حقیقي تصویر انعکاس کړي.

## د بغلان ولایت محاکمو د ۱۴۰۱ هجري شمسي کال په جریان کې د (۴۶۱۲) قضیو پر حل او فصل سربېره (۴۳۷۱) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.




## د هرات ولایت محاکمو د ۱۴۰۱ هـ ش کال په جریان کې د (۱۱۵۵۰) قضیو پر حل او فصل سربېره (۱۳۱۲۵) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.




میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc۱٤٤۳@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳